# یونیسف افغانستان

**د بشري وضعیت راپور**
**د 2024 کال د فبرورۍ میاشتې له لومړۍ تر 29مې نېټې**

## مهم ټکي

- په 2024 کال کې، 23.7 میلیونه خلک (12.4 میلیونه ماشومان) بشري مرستو ته اړتیا لري. پردې سربېره، نږدې 180,000 خلک د طبیعي پېښو له خطر سره مخ دي (چې 54 سلنه یې ماشومان دي).
- د 2023 کال له نومبر میاشتې څخه د 2024 کال تر مارچ میاشتې پورې د خوراکي خوندیتوب د پړاوونو د هر اړخیزې ډلبندۍ وړاندوېینې د خوراکي خوندیتوب خرابوالی په ګوته کوي، د دې ډلبندۍ په دریېم پړاو یا ښایي له هغه په پورته پړاو کې د خلکو شمېر 15.8 میلیونو (د ټول نفوس 36 سلنې) ته لوړ شي.
- په فبرورۍ میاشت کې، په ټول هېواد کې د یونیسف په ملاتړ په 3,300 ثابتو او ګرځنده روغتیایي مرکزونو کې تر پنځه کلنۍ کم عمره 1,041,809 ماشومان د شدیدې خوارځواکۍ په موخه معاینه شوي. د معاینه شوو ماشومانو له ډلې، 43,051 ماشومانو (75 سلنه نجونو) چې شدیده خوارځواکي یې درلوده د درملنې په موخه ثبت/ومنل شول.
- په فبرورۍ میاشت کې، د یونیسف په ملاتړ روغتیایي مرکزونو کې څه باندې 6 میلیونو خلکو اړین روغتیایي خدمات ترلاسه کړل.

## د وضعیت عمومي کتنه او بشري اړتیاوې

افغانستان له ډېرو شدیدو او تکراري طبیعي خطرونو لکه سېلابونو، زلزلو، واورو ښویېدنو، ځمکې ښویېدنو او وچکالۍ سره مخ هېواد دی، چې ستر لامل یې د غرنیو سیمو موجودیت او د چاپېریال خرابوالی دی. د 2024 کال د بشري اړتیاوو او غبرګون پلان د موندنو پر اساس، نږدې 180,000 خلک د طبیعي پېښو له خطر سره مخ دي (چې 54 سلنه یې ماشومان دي). داسې تمه کېږي چې د اوړي د سېلابونو په څېر شدیدې او ناڅاپي موسمي پېښې به په 2024 کال او له هغه وروسته د اقلیمي بدلون د اغېزو له امله زیاتې شي، دا به پر زېربناوو او کرنې شدید اغېز وکړي چې د خلکو د بې ځایه کېدو لامل به شي. د ژمي په تېرېدو سره د شدیدو بارانونو او سېلابونو خطر ډېرېږي. همدارنګه افغانستان د زلزلې له خطر سره مخ هېواد دی. په فبرورۍ میاشت کې په تخار، بلخ، کندز او بدخشان ولایتونو کې د 4.6-5.0 درجې زلزلې ټکانونو راپور ورکړل شو. که څه هم اغېزې یې لږې وې، خو په دغو او نورو سیمو کې د لوړې کچې زلزلو خطر موجود دی.

په افغانستان کې د وچکالۍ خطر موجود دی. د 2023 کال له نومبر میاشتې څخه د 2024 کال تر مارچ میاشتې پورې د خوراکي خوندیتوب د پړاوونو د هر اړخیزې ډلبندۍ وړاندوېینې د خوړو په خوندیتوب کې خرابوالی ښیي، د دې ډلبندۍ په دریېم پړاو یا تر هغه پورته پړاو کې د خلکو شمېر ښایي 15.8 میلیونو (د ټول نفوس 36 سلنې[1]) ته لوړ شي، په دې کې د دې ډلبندۍ د څلورم پړاو شاوخوا 3.6 میلیونه خلک (بېړني حالت کې) او د دې ډلبندۍ د دریېم پړاو (کړکېچ حالت کې) شاوخوا 12.3 میلیونه خلک دي[2]. که څه هم د 2023 کال له اکتوبر میاشتې څخه د 2024 تر فبرورۍ میاشتې پورې په ټول هېواد کې مجموعي اورښت له اوسط کچې ټیټ و، خو د 2024 کال د فبرورۍ په وروستیو کې تر ښه اورښت وروسته دا کسر کم شو. تمه کېږي چې د 2024 کال له مارچ څخه تر مې میاشتې پورې به د اوسط اورښت کچه په ټول هېواد کې مجموعي کسر نور هم کم کړي او په پسرلي کې به د غنمو له تولید سره مرسته وکړي[3].

افغانستان همدارنګه د ساري ناروغیو له پلوه ډېر زیانمن دی. د ساري ناروغیو ښوودونکي سیستم د 2023 کال د نومبر له دریېمې اونۍ راهیسې د شري (سرخکانو) د شکمنو پېښو ډېرېدل ښیي. د دغو پېښو ډېرېدل ښایي د ژمي په موسم کې د ډېر تګ راتګ او د بدن د واکسناسیون (خوندیتوب/معافیت) د ټیټوالي له امله وي. د 2024 کال د فبرورۍ د 18 او 24 ترمنځ، په ټولیز ډول 1,190 شکمنې قضیې او له شري (سرخکانو) سره تړلي د مړینې د 5 پېښو راپور ورکړل شوی. دا د 2022 د 26مې اونۍ راهیسې (1,574 پېښې) په یوه اونۍ کې د راپور ورکړل شوو شکمنو پېښو تر ټولو لوړه شمېره ده. د 2024 کال له پیل راهیسې، په ټوله کې د شري (سرخکانو) د 7,179 شکمنو پېښو او ۲۹ د مړینې پېښې (CFR = 0.4 سلنه) راپور ورکړل شوی. د شري (سرخکانو) په شکمنو پېښو کې، 5,782 (81 سلنه) تر پنځه کلنۍ کم عمره ماشومان او 3,301 (46 سلنه) مېرمنې وې.

د ساري ناروغیو ښوودونکي سیستم د 2023 کال د سپټمبر له دریېمې اونۍ راهیسې د شدیدو تنفسي انتاناتو په پېښو کې ډېروالی ښیي چې په ټول هېواد کې له سړې هوا سره تړاو لري. د 2024 کال د اتمې اونۍ په جریان کې، د شدیدو تنفسي انتانانو/سینه بغل د 38,948 پېښو او له دغو انتاناتو سره د اړوندو 81 مړینو راپور ورکړل شوی. د 2024 کال د جنورۍ له لومړۍ نېټې راهیسې په 24 ولایتونو کې د شدیدو تنفسي انتاناتو /سینه بغل د ټولټال 325,095 پېښو او 749 مړینو راپور ورکړل شوی. له دغو ټولو پېښو څخه، 205,585 (63 سلنه) تر پنځه کلنۍ کم عمره ماشومان او 160,657 (49 سلنه) مېرمنې وې. له ټولو مړینو څخه، 653 (87 سلنه) تر پنځه کلنۍ کم عمره ماشومان او 333 (45 سلنه) مېرمنې وې. د پېښو اوسنۍ شمېره د تېرو دریېو کلونو

[1] د Flowminder لخوا د 2024 کال د ملي نفوس اټکل.
[2] د افغانستان د خوراکي خوندیتوب د پړاوونو د ډلبندۍ د شدیدې خوراکي نا امنۍ تحلیل: اکتوبر 2023 – مارچ 2024 (د 2023 د ډسمبر په 14مه خپور شوی).
[3] FEWSNET: د افغانستان د خوراکي خوندیتوب لید، فبروري – سپټمبر 2024

(2022-2020) په جریان کې له راپور ورکړل شوي اوسط شمېر څخه لوړه ده. په 2023 او 2024 کلونو کې د پېښو لوړه شمېره ښايي د څارنې د سيستم د ښه والي له امله په راپور ورکولو کې ښه والی وي[4].

پر لاسرسي د څارنې او راپور ورکولو د چوکاټ له مخې چې د افغانستان لپاره د ملګرو ملتونو د بشري مرستو د همغږۍ دفتر (OCHA) لخوا اداره کېږي، په فبروري میاشت کې د بشري مرستو د برخې د همکارو ادارو لخوا د لاسرسي د 136 پېښو راپور ورکړل شوی، چې د 2023 کال د فبروري میاشتې په ورته موده کې د 109 راپور ورکړل شوو پېښو په پرتله د ژمي په جریان کې د فزیکي خنډونو له امله 25 سلنه زیاتوالی ښيي. د بشري غبرګون په پلي کولو کې لاسوهنه د لاسرسي د خنډونو اصلي لامل دی. یونیسف د خپلو سیمه ییزو دفترونو د شبکې له لارې د ادارو ترمنځ د همغږۍ میکانیزمونو او په ولایتي کچه د مشارکت له لارې کار ته دوام ورکوي ترڅو شته ننګونو ته د حل لارو په اړه خبرې وکړي او د مرستو د وړاندې کولو په برخه کې شته ستونزې په اصولي ډول له منځه یوړل شي.

## د پروګرام د غبرګون لنډ تحلیل

### روغتیا

په فبروري میاشت کې، یونیسف په ټولو 34 ولایتونو کې د 2,406 ثابتو روغتیايي مرکزونو له لارې د لومړنیو، منځنیو او دریيمې کچې د لومړنیو او اړینو روغتیايي خدماتو وړاندې کولو ملاتړ ته دوام ورکړ. د پایلې په توګه، له 6 میلیونو څخه ډېرو خلکو ته د یونیسف په ملاتړ روغتیايي مرکزونو کې اړین روغتیايي خدمات رسېدلي چې له دې شمېر څخه نیمايي یې تر پنځه کلنۍ کم عمره ماشومان دي. په لیرې پرتو او صعب العبوره سیمو کې د روغتیايي خدماتو د وړاندې کولو لپاره، یونیسف له 16 ګرځنده روغتیايي او تغذیې ټیمونو سره مرسته کوي، چې څه باندې 19,000 خلکو (50 سلنه ماشومانو) ته یې خدمات رسېږي. د روغتیايي خدماتو د دوام د تضمین لپاره، یونیسف په ټول هېواد کې 27,306 روغتیايي کارکوونکو (38 سلنه ښځینه وو) ته تنخواوې ورکړې دي.

یونیسف د شدیدو تنفسي انتاناتو، سینه بغل او هایپوترمیا (د بدن د تودوخې ټیټېدل) د مدیریت په موخه د روغتیايي کارکوونکو او ټولنیزو روغتیايي کارکوونکو د ظرفیت لوړولو لپاره، په شمالي، ختیځو او مرکزي سیمو کې 285 روغتیايي کارکوونکې وروزل. روزل شوي روغتیايي کارکوونکې به په راتلونکو اونیو کې د ژمي لپاره د چمتووالي او غبرګون د پروګرام د برخې په توګه د ولایت په کچه روزنه وړاندې کړي. د یونیسف په مرسته، ټولنیزو روغتیايي کارکوونکو د څه باندې 94,000 شدیدو تنفسي انتاناتو درملنه کړې او د شدیدو تنفسي انتاناتو څه باندې 54,000 پېښې او د نس ناستي (اسهال) 20,000 پېښې یې د روغتیايي مرکزونو په کچه د لا ډېر مدیریت په موخه راجع کړې دي. پردې سربېره، ټولنیزو روغتیايي کارکوونکو د کورنیو په کچه د لیدنو له لارې 65,793 تر زېږون مخکې او 40,733 تر زېږون وروسته مراقبتونه کړي ترڅو د مراقبت/پالنې کیفیت و ارزوي او ښه کړي.

یونیسف په ختیځو او سویلي سیمو (تورخم او سپین بولدک سرحدي برخو) کې بېرته راستنېدونکو ته د خدماتو وړاندې کولو په برخه کې فعالیت ته دوام ورکړ. د راپور ورکولو په موده کې، یونیسف، د همکارو ادارو له لارې، 1,517 بېرته راستنېدونکو ته روغتیايي خدمات او 500 ماشومانو ته د واکسین خدمات وړاندې کړي.

یونیسف همداراز له ګرځنده روغتیايي او تغذیې ټیمونو سره د روغتیايي توکو مرسته وکړه ترڅو بېرته راستنېدونکو ته د روغتیايي خدماتو وړاندې کول دوام ولري. د واکسین د معمول پروګرام د فعالیتونو د ملاتړ د یوې برخې په توګه، یونیسف 107,412 ماشومانو ته د شري (سرخکانو) واکسین ورکړل، 123,315 ماشومانو ته پېنټا والېنټ 3 یا پنځه ګوني واکسین ورکړل. پردې سربېره، 401,343 کسان د کووېډ - 19 پر وړاندې واکسین شول.

د 2024 په فبروري میاشت کې، د یونیسف کارکوونکو او ساحوي څارونکو له 677 روغتیايي مرکزونو څخه د څارنې په موخه لیدنې وکړې ترڅو د دوی فعالیت او د خدماتو کیفیت و ارزوي. د څارنې لیدنو وښوده چې 95 سلنه روغتیايي مرکزونو د مور او ماشوم روغتیايي خدمات وړاندې کوي او 96 سلنه د تغذیې خدمات وړاندې کوي. پردې سربېره، 96 سلنه دغه مرکزونه د واکسیناسیون/معافیت هر اړخیز خدمات وړاندې کوي. سره له دې، یوازې 75 سلنه روغتیايي مرکزونو د حفظ الصحې اسانتیاوې درلودې، 82 سلنه دغو مرکزونو د ښځو او نارینه وو لپاره د حفظ الصحې جلا ځایونه درلودل. د کارکوونکو او ساحوي څارونکو لخوا دوامداره څارنه د منظم راپور ورکولو او همداراز د تشخیص شوو تشو لپاره د اصلاحي اقداماتو تعقیب تضمینوي.

### تغذیه

په فبروري میاشت کې، په ټول هېواد کې د یونیسف لخوا په 3,300 ثابتو او ګرځنده روغتیايي مرکزونو کې 1,041,809 تر پنځه کلنۍ کم عمره ماشومان د شدیدې خوارځواکۍ په موخه معاینه شوي. له کتل شوو ماشومانو څخه، 43,051 شدیده خوارځواکي درلود چې (57 سلنه یې نجونې وې) د درملنې لپاره ثبت/منل شوي دي. که څه هم د 2023 کال د فبروري میاشتې په پرتله د درملنې لپاره د ثبت/منل شوو ماشومانو په شمېر کې 10 سلنه کموالی راغلی، دا کمښت د عملیاتي ننګونو له امله د ګرځنده روغتیا او تغذیې ټیمونو ته د لاسرسي د کمښت له امله رامنځته شوی. په سویلي سیمه کې، یونیسف د تغذیې خدمات 14 ګرځنده او ثابتو روغتیايي مرکزونو ته لوړ کړل. ټولټال 244,174 ماشومان چې عمرونه یې له 6 څخه تر 59 میاشتو پورې دي په فبروري میاشت کې د 6 میاشتو لپاره د تقویتي پوډر بستې ترلاسه کړې.

یونیسف د کال له پیل راهیسې له زېږون څخه تر 23 میاشتو پورې د 202,757 ماشومانو پالونکو/مراقبت کوونکو ته د مور، نوي زېږېدلي او کوچني ماشوم د تغذیې په اړه د مشورتي خدمتونه وړاندې کړي. یونیسف 94 روغتیايي کارکوونکې (ډاکټران، نرسان، قابلې او د تغذیې مشاورین) په شمالي سیمه کې د مور، نوي زېږېدلي او کوچني ماشوم د تغذیې په اړه روزلي. په ختیځه سیمه کې، یونیسف د 152 اضافي کارکوونکو (نرسانو، د تغذیې مشاورینو او د

[4] په افغانستان کې د ساري ناروغیو د خپرېدو د وضعیت راپور | د 2024 کال اتمه شمېره اپیډېمولوژیکي اونۍ.

ټولنیزو څارونکو) په ګومارلو سره د ښاري برخو د تغذیې د پروګرام لپاره ملاتړ بیا پیل کړ، چې له مخکې څخه د شدیدې خوارځواکۍ د هر اړخیز مدیریت د لارښودونو او کتنو په اړه روزل شوي وو.

## زده کړې

په فبرورۍ میاشت کې، یونیسف د 17,927 محلي زده کړو (CBE) ټولګیو له لارې د زده کړې په برخه کې 561,454 ماشومانو (64 سلنه نجونو) ته خدمات وړاندې کړي دي. په دې میاشت کې د دغو ټولګیو د معلوماتو د مدیریت په سیستم کې نهه ټولګي چې ټولټال 445 زده کوونکي (84 سلنه نجونې) لري، ثبت شوي. یونیسف همدارازپه څلورو ولایتونو کې د دولتي ښوونځیو له 104,080 زده کوونکو (42 سلنه نجونو) سره د تدریسي او درسي موادو د وېش له لارې مرسته کړې ده. د دغو موادو او درسي کتابونو د وېش په موخه د مارچ په وروستیو کې د نوي تعلیمي کال د پیل لپاره چمتووالی روان دی.

د نجونو لپاره د منځنیو زده کړو بندیز لاهم پر ځای دی. یونیسف د ښځینه ښوونکو روزنې ته دوام ورکوي، د دوی روزنه په ښوونځي کې د نجونو د ګډون په تضمین کې ارینه ده، په ځانګړې توګه د تنکیو نجونو لپاره. د راپور ورکولو په میاشت کې، یونیسف د ښوونکو په توګه زده کړې ته د نجونو د لاسرسي (GATE) پروګرام له لارې د 1,178 ښځینه زده کوونکو د ښوونکو روزنې او مسلکي پرمختګ سره مرسته وکړه.

## د ماشوم خوندیتوب، په بېړنیو شرایطو کې جنسیتي تاوتریخوالي (GBViE) او له جنسي ګټې اخیستنې او ناوړه استفادې څخه مخنیوی (PSEA)

په فبرورۍ میاشت کې، 216,979 ماشومانو او پالونکو/مراقبت کوونکو (50 سلنه نجونو او مېرمنو) د 4,030 معلولو ماشومانو په ګډون د مخنیوي، خطر کمولو او غبرګون خدماتو ته لاسرسی درلود. یونیسف 123,741 ماشومانو او پالونکو/مراقبت کوونکو[5] ته د ماشومانو لپاره د مناسبو ځایونو، روغتیایي مرکزونو، د لنډ مهالو مراقبتونو د مرکزونو او ښوونځیو له لارې د جوړښت لرونکې رواني روغتیا او رواني - ټولنیز ملاتړ د پوهاوي مهم پیغامونه ترلاسه کړل. پردې سربېره، 8,964 زیانمنو ماشومانو (2,282 نجونو او 6,682 هلکانو) ته د قضیې د مدیریت خدمات رسېدلي، په دغو خدماتو کې د 2,929 بې کسه او جلا شویو ماشومانو لپاره د کورنۍ تعقیب او بیا یوځای کول شامل وو. له 1,946 ماشومانو سره مالي مرستې وشوې، 54 ماشومانو ته د حرفوي مهارتونو روزنه ورکړل شوه او 3,135 ماشومان د زده کړې په خدماتو کې د بیا ځلي ادغام لپاره راجع کړل شول او په ټولو زونونو کې د 50 ماشومانو لپاره د معیشت ملاتړ خدمات وړاندې شول.

د چاودېدونکو توکو خطر د ماشومانو لپاره لاهم د پام وړ خطر دی، چې د ماشومانو د ډېرې مړګ ژوبلې لامل کېږي. یونیسف او همکارو ادارو په دې برخه کې 35,361 ماشومانو او د ټولنې غړو ته خدمات وړاندې کړي[6]. د جنسیتي تاوتریخوالي قضیو ته د خدماتو وړاندې کول د ښځو او نجونو پر تګ راتګ محدودیتونو او همداراز د ښځینه کارکوونکو د بندیز له امله یوه ننګونه وه. له دغو ستونزو سره سره، یونیسف او همکارو ادارو وکولای شول چې د جنسیتي تاوتریخوالي د مخنیوي، د هغو د خطر کمولو او غبرګون خدماتو له لارې 24,269 کسانو[7] ته دا خدمات وړاندې کړي.

### اوبه، روغتیا ساتنه او پاکوالی/حفظ الصحه (WASH)

په فبرورۍ میاشت کې، 686 کورنیو د حفظ الصحې بستې او 507 کورنیو ژمنۍ بستې ترلاسه کړې. پردې سربېره، د میاشتې په اوږدو کې د تورخم په پوله (صفري نقطه، ټرانزیت/لنډ مهالې ساتنې مرکز او د ثبت مرکز) کې خلکو ته د ټانکرونو له لارې 125 متر مکعبه اوبه ورسېدې. 11,932 کسانو (5,937 نارینه او 5,995 ښځینه) ته د لاسونو مینځلو، د تشناب کارولو، د څښاک د پاکو اوبو کارولو او په کور کې د اوبو د تصفیې کولو د طریقو په اړه پیغامونه ورسېدل. یونیسف همداراز په 8 ولایتونو[8] کې 59,946 کسانو ته د ځاګانو کیندلو، بیا رغونې او د لمریزې برېښنا په واسطه د اوبو رسولو د سیستمونو د نصبولو او د کورنیو د اوبو نښلولو له لارې د څښاک پاکې اوبه برابرې کړې. پردې سربېره، 9,328 خلکو[9] د ښځو او نرانو د جلا حفظ الصحې مرکزونو ته لاسرسی پیدا کړی چې له دې څخه 1,460 تنو ته د بېړنۍ روغتیا ساتنې اسانتیاوې او 7,868 تنو ته د ټولنیز بسیج او د کورنیو تشنابونو د جوړولو او کارولو له لارې رسیده ګۍ شوې.

د کال له پیل راهیسې، یونیسف په اوو ولایتونو[10] کې 102,350 تنو[11] ته رسیده ګۍ کړې چې په هغو کې د حفظ الصحې د ترویج او پوهاوي د غونډو له لارې په صابون سره د لاسونو مینځلو، شخصي حفظ الصحې، د کور په کچه د پاکو اوبو مدیریت، د اوبو جوش کولو، د حفظ الصحې د مرکزونو پر پاکولو او د نس ناستې یا اسهال د ناروغیو د لېږد پر لارو تمرکز وشو. پردې سربېره، په اتو ولایتونو کې 37,953 خلکو[12] د اوبو، روغتیا ساتنې او پاکوالي/حفظ الصحې اړین توکي ترلاسه کړل چې په هغو کې د کورنۍ حفظ الصحې د مصرف وړ بستې، د اوبو د تصفیه کولو مواد، سطلونه او سرپوښ لرونکې بوشکې شاملې وې[13]. دغو توکو له اغېزمنو خلکو سره مرسته وکړه ترڅو په سمه توګه چلند وکړي او د نس ناستې ناروغۍ مخه ونیسي. یونیسف په 14 ښوونځیو کې د اوبو رسولو، روغتیا ساتنې او د لاس مینځلو د مرکزونو له بیا رغونې سره هم مرسته وکړه. په ښوونځیو کې د اوبو، روغتیا ساتنې او پاکوالي/حفظ

---

[5] 33,355 نجونې، 38,895 هلکان، 24,468 ښځې او 27,023 نران.
[6] 2,023 نجونې، 14,067 هلکان، 3,897 ښځې او 5,374 نران.
[7] 8,646 نجونې، 7,607 هلکان او 8,016 ښځې.
[8] جوزجان، هرات، ارزګان، فراه، میدان وردګ، سمنګان، کندهار او بادغیس.
[9] 2,146 ښځې; 2,046 نجونې؛ 2,144 نارینه او 2,612 هلکان.
[10] هلمند، هرات، بلخ، غزني، بامیان، لوګر، پکتیکا او میدان وردګ.
[11] 18,253 ښځې، 20,634 نجونې 18,252 نارینه او 22,221 هلکان
[12] 8,729 ښځې، 9,868 نجونې، 8,729 نارینه او 10,627 هلکان.
[13] هرات، بلخ، کندهار، غزني، بامیان، لوګر، پکتیکا او میدان وردګ.

الصحي پروژو، د ښوونځي نږدې 7,882 ماشومانو او ښوونکو[14] ته د لاسونو مينځلو د ځايونو، د اوبو د نلونو، د حفظ الصحې د ځايونو جوړولو او بيارغونې او د حفظ الصحې د ودې د اقداماتو له لارې مرسته برابره کړه.

د 2023 په اکتوبر مياشت کې زلزلې ته د غبرګون په برخه کې د فعاليت له پيل راهيسې، يونيسف څه باندې 119,350 خلکو ته د اوبو (26,092 کسانو)، روغتيا ساتنې (24,236 کسانو)، او پاکوالي/حفظ الصحې (69,022 کسانو) خدمات او مواد وړاندې کړي دي. يونيسف د افغانستان په لويديځه سيمه کې په زلزله ځپلو سيمو کې د اوبو، روغتيا ساتنې او پاکوالي/حفظ الصحې په برخه کې ژوند ژغورونکو مرستو ته دوام ورکړی. يونيسف د هرات ولايت د زنده جان، انجيل، رباط سنګي او غوريان ولسواليو په 52 کليو کې زلزله ځپلو ته د څښاک پاکې اوبه، ابتدايي تشنابونه، د حفظ الصحې رعايتول برابر کړي او د اوبو، روغتيا ساتنې او پاکوالي/حفظ الصحې مهم توکي يې وېشلي دي.

په زلزله ځپلو ولسواليو کې د يونيسف د پلي کوونکو همکارو ادارو او د اوبو، روغتيا ساتنې او پاکوالي/حفظ الصحې د کلستر د همکارو ادارو لخوا شوو ارزونو وښوده چې د اوبو له 852 ارزول شوو نقطو څخه، 55 سلنه (468 د اوبو نقطې) د زلزلې له امله غير فعالې وې. د اوبو پاتې 384 نقطې د نورو لاملونو (وچکالی، سېلابونو او ...) له امله غير فعالې وې. د اوبو د تر ټولو ډېرو ارزول شويو غير فعالو نقطو (63 سلنه) په اړه راپور په زنده جان ولسوالی کې ورکړل شوی. په دغو کليو کې د اوبو رسولو د سيستمونو د بيارغونې د يوې برخې په توګه، د اوبو رسولو د 68 پروژو د سروې او ډيزاين چارې بشپړې شوې او د بيارغونې چارې يې په تدارکاتي او قراردادي پړاو کې دي.

## د ټولنې او سلوک بدلون او اغېزمنو شويو/زيانمنو کسانو ته حساب ورکول

په فبروري مياشت کې، يونيسف د ملي رسنيو کمپاينونو او همدارز د معلوماتو، زده کړې او ارتباطي مطالبو له لارې شاوخوا 2.2 ميليونه خلکو ته معلومات وړاندې کړي. پردې سربېره، څه باندې 141,000 خلکو د خوارځواکۍ پر مخنيوي، د واکسينولو پر ډېروالي، رواني هوساينې، د شديد نس ناستې (اسهال) پر مخنيوي، د څښاک د اوبو پر خونديې انتقال او تصفيه کولو، په آزاده فضا کې له رفع حاجت څخه پر ډډه کولو او د شخصي او کورنۍ حفظ الصحې د عملي کولو په برخه کې په مخامخ خبرو اترو کې ګډون درلود.

اغېزمنو شويوخلکو ته د حساب ورکولو د يوې برخې په توګه، يونيسف د شکايتونو او فيډبيک (نظر غوښتنې) د ميکانيزمونو له لارې د 13,757 کسانو نظرونه او شکايتونه ثبت/مستند کړي. نظرونه د 129 ټولنيز مشارکت او نظر غوښتنې د مرکزونو، ټولنيزو جوړښتونو، د يونيسف په ملاتړ د ټيليفوني اړيکو د مرکز او نورو ميکانيزمونو له لارې د يونيسف او همکارو ادارو لخوا راټول شوي. ياد نظرونه د يونيسف اړوندو پروګرامونو او کلسترونو ته د نورو اقداماتو او د نظر غوښتنې د کړۍ بندولو لپاره لېږل شوي.

يونيسف په فعال ډول د شديدو تنفسي ناروغيو د مخنيوي په موخه له څه باندې 110,000 خلکو سره، په هغو سيمو کې چې د دې ناروغۍ د خپرېدو خطر لوړ دی، کار کړی ترڅو دوی د مخنيوي او خونديتوب لارو چارو په اړه حياتي معلومات ترلاسه کړي کړي. يونيسف د محلي څارونکو/همکارانو لخوا په موخې ور ولايتونو کې شديدو تنفسي ناروغيو ته د غبرګون د څارنې په موخه 111 ملاتړي ماموريتونه ترسره کړي. په هرات ولايت کې د زلزله ځپلو ملاتړ دوام درلود او د ټولنې 124,400 غړو ته حياتي معلومات وړاندې کړل شوي. پردې سربېره، په هرات ولايت کې د ټولنيزو روغتيايي کارکوونکو، د ښوونځيو د مديريت شوراګانو، د ځوانانو شبکو، متنفذينو، د تغذيې مشاورينو، د ټولنيزې پراختيايي کمېټې غړو، محلي مشرانو، ښوونکو او د ټولنې رضاکارانو په ګډون 1,274 کسان په بېړنيو حالاتو کې د مور او نوي زېږېدلي ماشوم د روغتيا د اړتياوو په اړه وروزل شول. پردې سربېره، د راپور ورکولو په دې موده کې په تورخم پوله کې د ټولنيز مشارکت او نظرونو مرکز 107 ليدونکي درلودل چې معلومات يې غوښتل او د وړاندې شوو خدماتو په اړه يې نظريات شريک کړل.

## جنسيت او د تنکيو ځوانانو پرمختګ او ګډون/مشارکت

په فبروري مياشت کې، يونيسف 11,092 ښځو او نجونو ته د روغتيا، تغذيې، حفظ الصحې، د مياشتنۍ ناروغۍ د حفظ الصحې او د جنسيتي تاوتريخوالي د معلوماتو او راجع کولو د خدماتو په ګډون د مهمو معلوماتو او خدماتو يوه هر اړخيزه بسته وړاندې کړه. دا خدمات د ټولنې په کچه د ښځو او نجونو د خونديې ځايونو له لارې چې پر ښځو او نجونو د متمرکزو ادارو لخوا اداره کېدل وړاندې شول. دا تګلارې دوی ته د دې وړتيا ورکوي ترڅو د دوی پر تګ راتګ د محدوديتونو له امله پر ټولنيزه انزوا غلبه وکړي او معلوماتو او اړتيا وړ خدماتو ته په خونديې ډول لاسرسی پيدا کړي او همدارز له دوی سره مرسته وکړي ترڅو خپلې ټولنيزې شبکې وساتي. پر دې سربېره 4,416 ښځو، نجونو، نرانو او هلکانو ته د جنسيتي نورمونو په اړه د ټولنيزو خبرو اترو له لارې د روزل شويو محلي اسان چارو/تسهيلوونکو لخوا معلومات وړاندې شول. دا خبرې اترې له ناوړه جنسيتي نورمونو سره مبارزه، د مثبتو جنسيتي نورمونو په اړه د پوهاوي لوړولو او په کورنۍ او ټولنه کې د ښځو او نجونو ارزښت ته پر ودې ورکولو تمرکز کوي. خبرې اترې د خونديې ځايونو منلو ته د ودې ورکولو او خدماتو ته د مېرمنو او نجونو د دوامدار لاسرسي لپاره د ملاتړو په توګه د نرانو او هلکانو د مشارکت لپاره مهمې دي.

## ټولنيز خونديتوب او د بشري مرستو د نغدو پيسو لېږد

په فبروري مياشت کې، يونيسف د يوې مياشتې لپاره ګڼ موخيزې نغدي مرستې ووېشلې، چې د ژمي د غبرګون د يوې برخې په توګه د پنجشېر ولايت په خنج او بازارک ولسواليو کې له 2,865 کورنيو سره د يو ځل لپاره بشپړه شوه. په موخې ور کورنيو کې هغه کورنۍ شاملې دي چې د کورنۍ سرپرستي يې معلولين کوي، امېندواره او شيدې ورکوونکي ښځې لري، تر دوه کلنۍ کم عمره ماشومان لري او هغه کورنۍ چې سرپرستي يې د ښځو پر غاړه وي. ژمنی غبرګون د دې لپاره ډيزاين شوی و ترڅو داډ ترلاسه شي چې کورنۍ اړينو خدماتو ته لاسرسی لري، لکه د ماشومانو د هوساينې لپاره ګرمې جامې او کمپلې او د اقتصادي ستونزو له امله له رامنځته شوو زيانونو لکه له ډېرو پورونو، د ماشومانو له کار، په ټيټ عمر کې له ودونو او د ښوونځي له پرېښودلو سره د مبارزې لپاره لنډمهالی مالي ملاتړ.

[14] 250 نجونې، 7,493 هلکان، 5 ښځينه ښوونکي او 134 نارينه ښوونکي.

## د بشري مرستو رهبري، همغږي او  ستراتيژي

په فبروري میاشت کې، د تغذيې کلستر 43,980 ماشومان د شدیدې خوارځواکۍ  د درملنې په موخه ثبت او ومنل او 70,366 نور ماشومان(له 6-59 میاشتو عمر لرونکي) د منځنۍ شدیدې خوارځواکۍ  لپاره په پروګرام کې شامل شول. د کال په لومړیو دوو میاشتو کې د منځنۍ شدیدې خوارځواکۍ پروګرام ته د منل شویو ماشومانو ټولټال شمېر اوس 168,508 ماشومان دي. پردې سربېره، 51,286 امېندواره او شیدې ورکونکې مېرمنې په فبروري میاشت کې د درملنې په پروګرام کې شاملې شوې، چې د یادو مېرمنو د داخلېدو ټولټال شمېر 110,948 ته رسېږي.

د ښوونې او روزنې کلستر د همکارو ادارو لپاره د پالیسۍ چاپېریال لاهم له ننګونو سره مخ دی. د راپور ورکولو په میاشت کې، د پوهنې کلستر د بشري چارو له همغږۍ ټیم څخه وغوښتل چې د عدالت غوښتنې په هڅو کې مرسته وکړي ترڅو له نړیوالو مؤسسو څخه د پوهنې د ولایتي ریاستونو پر ځای محلي نادولتي موسسو ته د محلي ټولګیو پر لېږدولو تمرکز وکړي. دغه کلستر همداراز د بشري چارو له همغږي کوونکي وغوښتل ترڅو وړاندیز وکړي چې بشري ټولنه د محلي ټولګیو د لېږد لارښودونه چې د پوهنې وزارت لخوا جوړېږي تر تصویب وړاندې وڅېړي.

د اوبو، روغتیا ساتنې او حفظ الصحې د برخې د همکارو ادارو او کلستر ونو  ترمنځ د ګډو هڅو په پایله کې د 22 همکارو ادارو لخوا د اوبو، روغتیا ساتنې او پاکوالي/حفظ الصحې د ودې د خدماتو وړاندې کولو په شمول د بېلابېلو لارو له لارې 416,121 خلکو ته رسیده ګۍ وشوه[15]. په سوېلي سیمه کې د اوبو، روغتیا ساتنې او پاکوالي/حفظ الصحې د کلستر 25 کارکوونکي د راپور مرکز په برخه کې وروزل شول. پردې سربېره، یاد کلستر د کندهار ولایت په شپږو ولسوالیو کې د ګډې ګڼ سکټوري چټکې ارزونې د وسایلو د ارزونې او همداراز په سوېل ختیځه سیمه غزني او پکتیکا ولایتونو کې د بېرته راستنېدونکو لپاره د ګډې ارزونې ملاتړ وکړ.

په فبروري میاشت کې، د ماشومانو د خوندیتوب برخې 122,927 ماشومانو ته د رواني روغتیا او رواني ټولنیز ملاتړ په برخه کې خدمات وړاندې کړل او 44,827 والدینو / پالونکو ته یې په دې برخه کې پیغامونه رسولي. په ټولیز ډول 1,042 ماشومان د رواني روغتیا په برخه کې ځانګړو خدماتو ته راجع کړل شول. ټولو 4,431 ماشومانو ته (3,034 یې کسه او جلا شوي ماشومان) د قضیې د مدیریت خدمات وړاندې شول. دغه راز له څه باندې 2,109 کورنیو سره نغدي مرسته وشوه. د ماشومانو د خوندیتوب ملي برخې، د 11 نادولتي مؤسسو د قضیې د برخې 22 کارکوونکي (5 ښځینه وو) د ماشومانو د خوندیتوب، د معلوماتو د مدیریت، د روزونکو د روزنې، د اسنادو او خدماتو د وړاندې کولو د ښه کولو په برخه کې وروزل. تر اوسه پورې، 110 کارکوونکي په دغه سیستم کې ثبت شوي دي. په فبروري میاشت کې همکارو ادارو په یاد سیستم کې 60 قضیې ثبت کړې دي. د کلستر ترمنځ د ملي روزونکو د روزنې وروستی پړاو د اپرېل میاشتې لپاره پلان شوی دی. د دې روزنې موخه ګڼ سکتوري خدماتو ته د راجع کولو ښه کول دي.

---

[15] دا ارقام د هغو همکارو ادارو استازیتوب کوي چې راپور یې ورکړی.